۱سوال : دمحاکمو داصولو لغوي تعریف وکړئ؟
ځواب : دلغوي لحاظه ځيني علماء پدې عقیده دي چې اصول دفرانسوی ژبې procedure دکلمې معادل ده چې هدف ته درسېدو طرز په معنی دی.یعني د هغو روشونو ،مقراراتو او قوانینو مجموعه ده چې د حقوقي اوجزايي دعواوو دحل او فصل لپاره په کار وړل کېږي.
۲سوال : دمحاکمو د اصولو اصطلاحي تعریف وکړی؟
ځواب : په اصطلاح کې هغه قواعد او تشریفات دي چې ددعوې طرفین یې قضايي مراجعو ته د رجوع په وخت کې او همدارنګه قضايي ارګانونه یې موضوع ته د رسیده ګی په وخت کې په رعایت کولو مکلف دی.
۳سوال : د م، م، ا عمومي اهداف کوم دي ؟
ځواب : عمومي هدف د عدالت تامین او حق حقدار ته سپارل دي.
۴سوال : د م، م، ا بنسټيزې موخې کومې دي؟
ځواب : په لاندې ډول دي ۱ـ داتباعو د حقوقو برابري ۲ـ په قضايي غونډه کې عادلانه چلن ۳ـ د مدني دعوې څېړلو چټکوالی ۴ـ ددعوې د دواړو خواوو، شاهد او اهل خبره د حقوقو او وجايبو ټاکل ۵ـ د شهادت او قانوني سندونو ، قاطعه قرینو ،مستنبطه قرینو او دحکم د سببونو او دارزيابۍ د کړنلارې تنظیمول ۶ـ داستیناف غوښتنې ، فرجام غوښتنې او د محکمو پر وروستيو پریکړو او قرارونو باندې د بیا کتنې د اړوندو چارو تنظیمول.
۵سوال : دمدني محاکمو دقانون د نه موجودیت پر وخت په افغانستان کې د کومو فقهي کتابونو نه د محاکماتي اصولو لپاره کارونه کېده؟
ځواب : دغه فقهي کتابونه په لاندې ډول دي ۱ـ دعوی البینات ۲ـ معین الاحکام او داسې نور ...
۶سوال : کومه اصولنامه په افغانستان کې د م،م،ا لومړنی قانون شمېرل کېده؟
ځواب : د ۱۳۳۵ ل کال د محاکمو اداري اصولنامه لمړنی قانون شمېرل کېده.
۷سوال : د مدني تخلف او جرم تر مینځ توپیر واضح کړی؟
ځواب : ۱ـ جرم د جزايي قواعدو نه سرغړونه کول دي چې موخه یې په ټولنه کې د ټولنیز نظم او امن ټینګول دي. خو مدني تخلفات د مدني قواعدو نه سرغړونه کول دي چې موخه یې په ټولنه کې د اشخاصو تر مینځ د اړیکو ټینګول دي. ۲ـ په مدني تخلفاتو کې باید حتماً ضرر او خساره خصوصي فرد ته رسېدلي وي. خو په جرم کې بیا اجتماعي نظم ته صدمه رسېدلي وي.۳ـ په جرم کې ددولت نماینده د اجتماعي نظم د اعادې دعوه اقامه کوي. خو په مدني تخلفاتو کې خصوصي فرد چې صدمه یې لیدلي وي دعوه اقامه کوي.۴ـ په جرم کې حق الله یا جزايي دعوه اقامه کېږي. خو په مدني تخلفاتو کې بیا د حق العبدی یا مدني دعوه اقامه کېږي .۵ـ دجرم دارتکاب په نتیجه کې جزايي مویدات یا ټولنیز غبرګونونه په مجرمینو باندې تطبیقیږي لکه په شرعي اندازو کې حدود اوپه وضعي قوانینو کې تعزیرات یا اعدام .خو د مدني تخلفاتو دارتکاب په نتیجه کې مدني مویدات تطبیقیږي لکه جبران د خسارې ، دعقد فسخ ، دعقد باطلېدل او د مدیون مجبورول د وجیبې په اجرا باندې .۷ـ دجزايي محاکمو اصول جزايي دعوې ته رسیده ګي کوي . خو دمدني محاکمو اصول مدني دعوې ته رسیده ګي کوي.
۸سوال : دمدني او تجارتي دعواوو توپیر واضح کړی؟
ځواب : مدني دعوه د حقوقي اعمالو او حقوقي حوادثو څخه رامینځته کېږي ؛ خو تجارتي دعوه د تجارتي اختلافاتو څخه رامینځته کېږي.
۹سوال : دافغانستان اساسي ق په رڼا کې دهیواد قضایه قوه تعریف کړی؟
ځواب : داساسي ق ۱۱۶ مې مادې مطابق قضایه قوه ددولت یو مستقل رکن دی چې دیوې سترې محکمې ، استیناف محکمې او ابتدایه محکمو څخه جوړه شوي او دق په چوکاټ کې خپل واکونه او تشکیلات لري.
۱۰سوال : د پیغبر (ص) پر وخت د قضا څرنګوالی توضیح کړی؟
ځواب : کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې د اسلامي حکومت د بنسټ ډېره کینوده او د قضا سپیڅلي دنده یې پخپله ترسره کوله. تشریعی او تنفیذی مصدر یې په خپلو مبارکو لاسونو کې درلوده. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پریکړې د وحي او اجتهاد په رڼا کې عملي کولې د هرې پيښې په اړه به وحیه نه نازلیدله بلکه د خپل هغه قول پر بنسټ چې فرمايي (البینة علی المدعي ، والیمین علی من انکر) فیصلې ترسره کولې.
۱۱سوال : د پیغمبر (ص) فیصلې په کوم بنیاد وې توضیح راکړئ؟
ځواب : د پیغمبر (ص) فیصلې د وحي په رڼا کې د اجتهاد پر بنیاد وې لکه دده مبارک قول (البینة علی المدعي ، والیمین علی من انکر)
۱۲سوال : د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت په زمانه کې دقضا څرنګوالی واضح کړی؟
ځواب : حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خپل مبارک پیشوا په قدم یې قدم کیښود او د قضا ارګان ته یې ځانګړې اهمیت ورکولو، د نوموړي د خلافت په دوه کلنې دوره کې حضرت عمر (رض) د قضا سپيڅلې دنده ترسره کوله، خو په دې موده کې دربار ته څوک د دعوې د لوریو په توګه حاضر نه شول او علت یې هم دا وه چې خلکو له حضرت عمر (رض) څخه ویره درلوده.

۱۳سوال : دکوم خلیفه پر وخت د قضا ارګان د اداري مقاماتو څخه بیل شو؟
ځواب : د حضرت عمر (رض) په وخت کې د قضا ارګان د اداري مقاماتو څخه بیل شو.
۱۴سوال : د حضرت عمر (رض) د خلافت په دوره کې د قضا دپرختیا یو څو بیلګې وواياست؟
ځواب : د قلمرو په ۵ نقطو کې یې د قضا ځانګې پرانستلې چې دغه مرکزونه په مدینه منوره ، کوفه ، بصره ، مکه مکرمه او مصر ؤ او لمړنی شخص ؤ چې دقضا ارګان اساس یې په جدا ډول کینبوده او قضایه دوستوالعمل یې په ۱۴ مادو کې جوړ کړو او دوخت قاضي ابو موسی اشعري (رض) ته یې ولیږه ، او همدرانګه دده په وخت کې د حبس نظام په اساسي ډول منځته راغي چې لده څخه مخکې به په کور یا مسجد کې عملي کیده په مالي او مدني مسایلو کې قضا ته استقلالیت ور کړ هغه جنایات چې دحدودو اوقصاص مستلزم وه په خلیفه پورې اړه درلوده دفتري نظام او منظم دفتر او دیوان یې منځته راوړ .
۱۵سوال : د عثمان (رض) د خلافت دوره کې د قضا څرنګوالی په لنډو ټکو کې واضح کړی؟
ځواب : د دده مبارک د خلافت په دوره کې قضا پراختیا ومونده، دده مبارک د خلافت پر مهال د لومړي ځل لپاره دارا لقضا رامنځته شوه چې تر دي وړاندی قضایي پریکړې په جومات کې ترسره کیدلي، د قضاتو لپاره یې له بیت المال څخه تنخوا وټاکله، ترڅو د قضایي چارو لپاره پوره وخت ولري، دحکم اصدار د قاضي د فراصت له مخي ترسره کیده، چې په څلورو تشریعي مصادرو یې استناد درلودو (قران، حدیث، اجماع او قیاس).
۱۶سوال : دقضا په ساحه کې د حضرت علی (رض) د ذکاوت داثبات لپاره یو حدیث ووایست؟
ځواب : حدیث دادي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل مبارک ژوند پرمهال حضرت علي (رض) یمن ته د قاضي په توګه لیږلو خو حضرت علي (رض) مبارک ته د خپل د کم عمر عذر وړاندي کړو نو پیغمبر (صل الله علیه وسلم) ورته وفرمایل الله (جل جلاله) به ستا زړه ته هدایت وکړي او ژبې ته به دي ثبات در وبخښي، کله چې ستا مخې ته د دعوي لوري کښیني تر هغي پریکړه مه کوه چې ددوي خبري دی نه وي اوریدلي.
۱۷سوال : داموېانو د سلطنت په دوره کې دقضا په اړوند عمومي توضیحات ارایه کړی؟
ځواب :
ـ قضاتو په خپلو دندو کې خپلواکي درلوده. ـ په دي دوره کې د لومړي ځل لپاره د قاضي القضات منصب مینځته راغی. چې لومړی قاضي القضات دامام ابوحنیفه شاګرد امام ابو یوسف ؤ چې د عدلیي وزیر حیثیت یې درلوده. ـ قاضیان په دي دوره کې بیلابیلو سیمو ته ولیږدول شول. ( عراق ته حنفي قضات، شام او مراکش ته مالکي قضات او مصر ته د شافعي فقهي پربنسټ قضات ولیږدول شول.) ـ د دیوان المظالم قضایي ارګان رامنځته شو چې دنده یې ددولتي چارواکو دچارو څارل د شریعت د خلاف ورزۍ څخه ددوي وېرول وو،او همدارنګه دهغوي محاکمه او مجازات کول ددي دیوان له صلاحیت څخه ؤ.
۱۸سوال : په کومه اسلامي دوره کې د قاضي القضات منصب مینځته راغی ، او لمړی قاضي القضات څوک ؤ راوپیژنی؟
ځواب : د عباسیانو په دوره کې د قاضي القضات منصب مینځته راغی ، چې لمړی قاضي القضات دامام ابوحنیفه شاګرد امام ابو یوسف ؤ چې د عدلیي وزیر حیثیت یې درلوده.
۱۹سوال :د دیوان المظالم قضایي ارګان دندې را په ګوته کړئ؟
ځواب : د دیوان المظالم قضایي ارګان دندې ددولتي چارواکو دچارو څارل د شریعت د خلاف ورزۍ څخه ددوي وېرول وو،او همدارنګه دهغوي محاکمه او مجازات کول ددي دیوان له صلاحیت څخه ؤ.
۲۰سوال : په اسلام کې دقضا دارزښت داثبات لپاره یو ایت شریف وړاندې کړی؟
ځواب : (وان حکمت فاحکم بینهم بالقسط ان الله یحب المقسطین ) ژباړه : "که چیرې ته ددوی تر مینځ فېصله کوې ، یا پیغمبره ؛ نو ددوی تر مینځ په عدالت فېصله کوه ؛ بېشکه الله تعالی عدالت کوونکی خوښوي"
۲۱سوال : یو حدیث شریف د قضا دارزښت لپاره وړاندې کړی؟
ځواب : ژباړه : کله چې یو حاکم اجتهاد وکړ او حق ته ورسېد ورته دوه اجرونه دی او که چیرې حق ته ونه رسېد ورته یو اجر دی.پدې ارتباط بل روایت کې راغلي که چیرې حق ته ورسېد ورته لس اجرونه دی.(روا البیهقي)
۲۲سوال : په اسلامي قضا کې یوازې د الله تعالی حکم پلئ کېږي، دیو ایت شریف په رڼا کې یې واضح کړی؟
ځواب : ایت شریف ـ (وان احکم بینهم بما انزل) المایده /۴۹ ژباړه : حکم وکړه ددوي په مینځ کې په هغه څه چې الله تعالی نازل کړي دي.
۲۳سوال : په اسلام کې دقضا پر وړاندې ټول انسانان برابر دي دا ادعا په کوم حدیث شریف کې ثابتولی شي؟
ځواب : په ابوداوود کې له ابوسعید خدري (رض) څخه روایت دي چې یوه ورځ رسول الله (ص) د خلکو ترمنځ ویش کولو او په ګڼه ګونه کې یو شخص پر رسول الله (ص) له پاسه وغورځیده نبي کریم (ص) هغه په امسأ چوخ کړو او د

سړي مخ ټيي شو نو رسول الله (ص) ورته وفرمايل راشه او خپله بدله له ما څخه واخله او سړي رسول الله (ص) ته وويل ما ته معاف کړي..........

۲۴سوال : ددولت داساسي جوړښتونو نظامنامه د کوم پاچا پر وخت مينځته راغله يوازې نوم يې راوپيژنئ؟
ځواب : ددولت داساسي جوړښتونو نظامنامه د غازی اوقهرمان امان الله خان په وخت کي مينځته راغله.

۲۵سوال :د ميزان التحقيقات الشرعيه ټولني د ايجاد موخې راوښيئ؟
ځواب : دميزان التحقيقات الشرعيه ټولني ايجاد د حبيب الله خان په وخت کي ؤ او موخه يې ددیني علما څخه امتحان اخيستل او هغوی يې د قاضي او مفتي په توګه ټاکل.

۲۶سوال : د محاکمود واک او جوړښتونود قانون په رڼا کي ستره محکمه تعريف کړئ؟
ځواب : د محاکمود واک او جوړښتونو ق د ۴ مي مادې ۱۲ مي فقرې داسي تعريف کړې ستره محکمه د قضايه قوې تر ټولو لوړارګان دی چي قضيي د قانوني تطبيق د سمون له پلوه تر څيړني لاندي نيسي.

۲۷سوال : د سترې محکمي دديوانونو نومونه را په ګوته کړئ؟
ځواب : په لاندې ډول دي ۱ـ دعمومي جزا ديوان ۲ـ دعامه امنيت ديوان ۳ـ دعامه او مدني حقوقو ديوان ۴ـ سوداګريز ديوان ۵ـ د داخلي او خارجي امنيت پر ضد د جرمونوديوان

۲۸سوال : د سترې محکمي د ديوانونو د ريسانو دندې او واکونه د قانون په رڼاکي را ښکاره کړئ؟
ځواب : ۱- د خپل اړوند ديوان د کارونو سر مشري ۲- د اړوند ديوان د غونډو مشري او د هغو رابلل ۳- د اړوندو ديوانو د چارو تنظيم د تجاربو شريکول او سترې محکمي ته ددې په اړه را پور ور کول .

۲۹سوال : د سترې محکمي جوړښت په لنډو توضيح کړئ؟
ځواب : داساسي ق ۱۱۷ مادې سره سم ستره محکمه ۹ تنه غړي لري ، چي د اساسي قانون د ۱۱۸ مي او ۵۰ مادې د وروستني بند احکاموته په پام سره، د ولسي جرګي په تاييد او د جمهور ريس لخوا په لاندې ډول ټاکل کيږي او همدارنګه د محاکمو د واک او جوړښتونو قانون د ۲۳ مي مادې لمړي بند پربنسټ سرته محکمه ۹ تنه غړي لري چي په لاندې ډول ټاکل کيږي؛
۱- درې تنه د څلورو کلونو لپاره
۲- درې تنه د ۷ کلونو لپاره
۳ ــ درې تنه د لسو کلونو لپاره ، وروستي تعينات د لسو کلونو لپاره ترسره کيږي.
يو د لس کلني غړي نه د سترې محکمي د ريس په توګه په دنده ګمارل کيږي ، او د سترې محکمي د پنځه ګونو ديوانونو رياست د خپله سترې محکمي د عالي شورا په غاړه دی، او په نوبت سره د سترې محکمي هر غړی د يو کال لپاره د ريس لخوا د ديوان د ريس په توګه ټاکل کيږي .

۳۰سوال : دسترې محکمي دندې او واکونه د بنسټيز قانون په رڼا کي تصريح کړئ؟
ځواب: : د اساسي ق ۱۲۰ ،۱۲۱ مي مادې له مخې په لاندې ډول دي ۱۲۰مه ماده ـ د قضايه قوې په صلاحيت کي ټولې هغه دعواوې شاملي دي چي ددولت په شمول دحقيقي او حکمي اشخاصو له خوا د مدعي يا مدعي عليه په توګه د ق حکمونو سره سم محکمي ته وړاندې کيږي .۱۲۱مه ماده ـ له اساسي قانون سره د قوانينو ، تقنيني فرمانونو ، بين الدول معاهدو او بين المللي ميثاقونو د مطابقت څيړل او دغه راز د ق له حکمونو سره سم د حکومت يا محاکمو په غوښتنه د هغو تفسير هم د سترې محکمي له صلاحيتونو څخه ګڼل کيږي. .........

۳۱سوال :د محاکمو د جوړښت او واک قانون په رڼا کي د سترې محکمي دندې او واکونه راوپيژنئ؟
د محاکمو د واک او جوړښتونو قانون ۳۱،۳۲،۳۳،۳۴ د مادو په نظر کي نيولو سره د سترې محکمي دندې په لاندې ټکو کي خلاصه کولی شو .
۱- د قانون سره سم د حکومت يا محاکمو د غوښتني پر اساس له اساسي قانون سره د نورو قوانينو،تقنيني فرامينو،بين الدول معاهدو او نړيوالو ميثاقونو د مطابقت څيړل او د هغو تفسيرول .
۲ ــ د حکومت له لورې ملي شورا ته د قضايي چارو د تنظيم په ساحه کي د قانون د طرحې وړانديز.
۳ ــ په اړوندو قوانينو کي د اټکل شوو احوالو مطابق ،د لوی څارنوالی يا د دعوې د لوريو د اعتراض په اساس د نويو دلايلو د را پيداکيدو له امله د محاکمو پر قطعي پريکړو بيا کتنه .
۴ ــ د قانون د حکمونو مطابق دلوی څارنوالی يا د دعوې د لوريو د غو ښتني پر اساس د موجهو دلايلو د شتون پر وخت د واک پرسر د محاکمو د شخړو حل او له يوې محکمي څخه بلې ته د قضيي د څيړلو واک سپارل.
۵ ــ د قانون د حکمون مطابق بهرني هيواد ته د مجرمينو د ورسپارلو په هکله تصميم .
۶ ــ د اساسي قانون د ۲۸ مادې د حکم مطابق بهرني هيواد ته د هيواد د تبعي تسليمول او د متهم کيدو د دلايلو څيړنه .
۷ ــ د قضايي روېې ديووالي تآمين .
۸ ــ د قاضيانو د سرغړوني پرمهال اړوند تصميم .
۹ ــ په قضايي چارو کي د محاکمو د غوښتنو څيړنه او هغو ته ځواب ورکول .

۳۲سوال : د استیناف محکمه را وپیژنئ؟
ځواب: دمحاکمو د واک او جوړښتونود قانون د۴ مادی او ۲۰ بند وايي چې: « داستيناف محکمه هغه قانوني مرجع ده چې قضاياوي په ثانوي پړاو کې د دول او ماهيت له پلوه څېړي او تر انفصال لاندې يې نيسي.»
۳۳سوال : د استیناف محکمه د کومو دیوانونو لرونکي ده ؟
ځواب : د استیناف محکمي دیوانونه په لاندې ډول دي ۱ – دعامه حقونو دیوان ۲- تجارتي دیوان ۳- دعمومي جزا دیوان ۴- د مدني اوشخصیه احوالو دیوان ۵ – د عامه امنیت دیوان .
۳۴سوال : د استیناف محکمي جوړښت او واکونه توضیح کړئ؟
ځواب : جوړښت: د استیناف محکمه له يو رئیس او د دیواننو له رئیسانو او قضايي غړو څخه جوړه ده، د استیناف محکمي په هر دیوان کې د قضايي غړو شمير له شپږو تنو څخه نه زیاتیږي، په يوه موضوع کې د قضايي هئیت ترکیب دري تنه ده ( يو رئیس او دوه غړي)، که چیرته د استیناف محکمي دعمومي رئیس په ریاست قضايي غونډي تدویر شي ددیوان رئیس په غونډه کې د غړي په توګه ګډون کوي.
واکونه: د مرافعي محکمه د ښکتنیو محاکمو هغه پریکړي او قرارونه ددویم ځل لپاره د لوریو د اعتراض په صورت کې څیړي، که پریکړي او قرارونه د قانون د حکمونو سره سم صادر شوی وي د استیناف محکمه هغه تأیدوي او که چیرته د قانون له حکمونو سره په ټکر کې واقع شوی وي د استیناف محکمه نوموړي حکمونه او قرارونه نقض او باطلوي، د استیناف محکمه نشي کولای په حقوقي موضوعاتو کې د ښکتنیو محکمو قرار یا حکم تعدیل کړي.
۳۵سوال : د محاکمو د واک او جوړښت دقانون په رڼا کې د ابتدایه محاکمو تعریف وکړئ ؟
ځواب: (۳۳:۴) ماده وايي « دا هغه قانوني مرجع ده چې قضيي په لومړي پړاو کې د ډول او ماهیت له پلوه څیړي،او تر انفصال لاندې يې نيسي.»
۳۶سوال : د استینا ف د ولایتي محکمي په قضايي سیمه (حوزه) کې کوم لمړني محاکم شتون لري را وپيژنئ؟
ځواب : د محاکمو د واک او تشکیلاتو د قانون د (۶۱مه ماده ) وايي د استیناف ولايتي محکمه پخپل اړونده قضايي حوزه کې د لاندینیو ابتدایه محکمو درلودنکي ده: ۱- د ولایت د مرکز ابتدایه محکمه ۲- سوداګریزه ابتدایه م ۳- دشخصیه احوالوابتدایه م ۴- د ماشومانوابتدایه ۵- د ولسوالی ابتدایه م.
۳۷سوال : د ولایت د مرکز دابتدایه محکمي جوړښت روښانه کړئ؟
ځواب: په هر ولایت کې یوه استیناف محکمه شتون لري چې د دې استیناف محکمي په چوکاټ کې یوه د ولایت لمړنی م شتون لري ،چې ددغې محکمي په سر کې يو رئیس وي چې بیا د هر دیوان په سر کې يو رئیس قرار لري او ددې م د هر دیوان قضايي غړي حد اکثر څلور تنه قاضیان وي، په ابتدایه محکمه کې قضیي د درې قاضیانو لخوا څیړل کیږي او که د قاضیانو تعداد يې له درې تنو لږ وي نو يو نفر قاضي هم کولای شي،موضوع وڅیړي که د لمړنی محکمي ریس په قضايي غونډه کې ګډون وکړي نو د اړونده دیوان رئیس د غړي په حیث ګډون کوي ، د عمومي جزا دیوان رئیس په عین حال کې د مرکز د لمړنی محکمي د رئیس مرستیال هم دی.
۳۸سوال : د ولایت د مرکز لمړنی محکمه کوم دیوانونه لري يواځې نومونه يې را وښیئ؟
ځواب : نومونه يې په لاندې ډول دي ۱- د عمومي جزا دیوان ۲- مدني دیوان ۳- دعامه حقوقو دیوان ۴- د عامه امنیت دیوان ۵- ترافیکي دیوان.
۳۹سوال : د حقوقو ریاست په تولیزه بڼه واضح کړئ؟
ځواب :
۴۰سوال : مدني څارنوالی راو پيژنی ؟
ځواب : د مدني او عامه حقوقو ریاست له ۱۳۸۵ کال څخه مخکې د لويي څارنوالی په تشکیل کې فعال ؤ، چې سرکې د لويي څارنوالی د مدني او تجارتي چارو مرستیال وجود درلوده ، ددغه ریاست په تشکیل کې د هیواد له مرکز څخه بیا تر تر ولایاتو پوري د مدني او عامه حقوقو څارنوالان فعالیت درلود.
۴۱سوال : مسخر وکیل چاته ویل کیدلی شي ؟
ځواب : مسخر وکیل عبارت له هغه شخص څخه دی چې دغایب مدعي علیه دحقوقو د ساتنې په منظور ټاکل کیږي ، تر څو دهغه د حقوقو څخه دفاع وکړي.
۴۲سوال :حقوقي عریضه تعریف کړئ؟
ځواب: حقوقي عریضه هغه مطبوع او بیه لرونکي پاڼه ده چې دشاکی د شکایت او غوښتنو د تحریر په موخه د عرایضو د قانون د نښلول شوي فورمي مطابق عامو خلکو ته ورکول کیږي، دمالیې وزارت د اړوندې شعبې مهر کړي وي اود مسلسل نمبر لرونکي وي.
۴۳سوال :عارض او معروض علیه کوم کسانو ته ویل کیږي؟
ځواب: عارض هغه شخص دی چې پوره حقوقي او شریعی اهلیت ولري او اړونده مقام ته يې خپل شکایت او غوښتنه وړاندې کړې وي، او د قانون له حکمونو سره سم د هغې د څیړنې غوښتونکي وي.
معروض علیه هغه حقیقي اوحکمي شخص دی چې پوره حقوقي اهلیت لرونکی وي او د عارض د شکایت طرف وګرځي .

۴۴سوال : د عریضي ارکان کوم دي یوازې نومونه یې ولیکئ؟
ځواب: د عریضي  اساسي ارکان څلور دي ۱:عارض ۲:معروض علیه ۳:دشکایت دوړاندې کولو مرجع ۴:غوښتنه او د ګوتو نښه هم یو رکن ګڼلې شو
۴۵سوال : کومو کسانو ته په سپینو پاڼو کې د عریضي د لیکلو حق ورکړل شوی؟
ځواب : د عرایضو د څېړنو قانون ۲۷ ماده وایي چې محصلین ،متعلمین ددولت کارکونکي او بندیان کولای شي خپلې عریضي په سپینو پاڼو کې ولیکي.
۴۶سوال : په دولتي ادارو کې د عریضي د څېړنې موده څومره ده؟
ځواب : دعرایضو دڅېړنو قانون ۳۳ مادې مطابق په دولتي ادارو کې دعریضي د څېړنې موده ۳ ورځې ده ،خو که د سوابقو د راټولو اړتیا وي دغه موده تر ۱۵ ورځو پورې اوږدېدلی شي.
۴۶سوال : د صغیر، لېوني او معتوه عریضي د چا لخوا اړونده مراجعو ته وړاندې کېږي؟
ځواب: د عرایضو دڅېړنو قانون ۳۰ مادې مطابق د صغیر،لیوني اومعتوه عریضي دهغوي د ولي، وصي یا قیم له خوا وړاندې کېږي .
۴۷سوال :د یو حقوقي عریضي  محتویات کوم دي؟
ځواب : ۱ :نوم ،پلار نوم،اصلي او فعلي هستوګنځی، دمدعي او مدعي علیه د تذکرې نمبر.۲: دمدعي بها داندزې ټاکل او ددعوي لنډ مطلب. ۳ :دجنس ، نوع او قیمت بیانول د مجلة الاحکام ۱۶۱۹،۱۶۲۰،۱۶۲۱ مادو داحکامو سره سم .۴: دعارض لاسلیک یا دګوتو نښه که عارض وکیل ،وصي یا قیم وي ،له مکمل شهرت سره ، دوکالت ، وصایت اوقیمومیت دسند د نیټې او نمبر ذکر کول ضروري دي. ۵: دحق دایجاد او عریضي دوړاندې کولو نیټه.
۴۸سوال : یوه مدني دعوه څه وخت اقامه شوې ګڼل کېږي؟
ځواب : کله چې صورت حال ته جګه یا ثبت شي.
۴۹سوال : د سوداګریزو محاکمو اصولو د قانون د کومې مادې په اساس د مدني حق غوښتل باید رسماً د عریضي په واسطه وي؟
ځواب :د سوداګریزو محاکمو اصولو قانون ۱۰۶ مادې په اساس د مدني حق غوښتل باید رسماً د چاپي عریضي پواسطه وي.
۵۰سوال : د مدني محاکمو اصولو د قانون د ۳۷ مادې د حکم په اساس د ۵ دفترونو نومونه وواياست؟
ځواب : ۱: دحاضرې کتاب  ۲:د واردې او صادرې کتاب  ۳: د عرایضو دثبت کتاب ۴: دجزایي ،مدني او تجارتي قضیاوو داندراج کتاب ۵: دفیصلو د صدور کتاب .

۵۱سوال : د عارض لاسلیک ولې په عریضه کې ضروري دی؟
ځواب : ځکه ترهغې پورې عریضي ته رسیده ګي نا شوني وي ترڅو پورې چې دعارض لاسلیک نوي شوي .
۵۲سوال : د واردې او صادرې په دفتر کې کوم موضوعات ثبتېږي؟
ځواب : د م،م،ا.ق د۳۷ مادې لومړۍ فقرې مطابق دواردې او صادرې کتاب د یوې ادارې له مهمو اسنادو څخه شمېرل کیږي ،پدې کتاب کې راغلي مکتبونه او نورو مراجعو ته تللي مکتوبونه  دورستنیو اجراتو لپاره په هغو کې ثبتیږی دغه کتاب د یو کال لپاره د ادارو له خوا ځانګړی کېږې او عنوان او کال یې په قایه باندې لیکل شوی وي.
۵۳سوال : د عاجلو قضیو د غونډو دفتر اهمیت څه دی؟
ځواب : د م،م،ا،ق د (۳۷مې مادې څلورمې فقرې سره سم) کومه دعوي چې اوضاع ته په کتني د واکمنې محکمې په تشخیص سره د سملاسي څېړنې غوښتنه وکړي په دغه دفتر کې ثبتیږي.                                خو زما په شخصي نظر ددې دفتر اهمیت په دی کې دی چې هغه دعوی وی چې عاجلو پریکړو ته اړتیا ولري ژر حل او فصل کیږي او احتمالاً که چیرته مدعي بها ژر خرابیدونکي خاصیت ولری او دتلف کیدو په لوري روان وي د هغې د فصاد او د شخص د متضرره کیدو څخه مخنیوي کیږي.
۵۴سوال: د قضایي حکم په فورمه کې کوم موضوعات ذکر کېږي؟
ځواب: د م، م، ا، ق د (۳۷مې مادې شپږمې فقرې سره سم ) په یاده فورمه کې مقدمه، استدلال، پایلې او دحکم دنص برخو ته شامله وي او د قضایي هیات پریکړه په کې لیکل شوي وي او د دوی له لوري لاسلیک او مهر پرې لګېدلی وي.
۵۵سوال: وصي چاته ویل کېږي؟
ځواب : وصي هغه چاته ویل کېږي چې یاد شوي صلاحیت یې په صریح ایجاب او قبول سره منلي وي، وصیت په صریح ایجاب او قبول باندې صحیح دی او دلاتاً هم صحت لري.
۵۶سوال : د موصی شرایط کوم دي؟

ځواب : موصی باید د تملیک شرعي او حقوقي اهلیت ولري او یو مسلمان ،عاقل ، بالغ ، امین، باعفته، عادل او د متروکې په مال باندې با کفایته شخص وي.
۵۷سوال : د موصی له د حکمي ژوند شرط توضیح کړئ؟
ځواب: لکه یو شخص چې د هغه حمل لپاره وصیت کوي چې هغه دمور په ګېډه کې وي.
۵۸ سوال : ابلاغ پارچه څه ته ویل کېږي؟ او څو نقله وي؟
ځواب : د م،م،ا،ق د(۳۷ مادې دولسمې فقرې مطابق): ـ ابلاغ پارچه
له هغې بارچې څخه عبارت ده چې د محکمې له تصمیم وروسته ، د نص حکم په کې درجیږي او په قضایي جلسه کې د طرفینو د اګاهي په غرض محکوم علیه ته تسلیمېږي او محکوم علیه په دغه پارچې کې د ګوتې په ایښودلو سره خپل قناعت یا عدم قناعت ښکاره کوي که محکوم علیه ولیکي چې مستحضر شوم او په ټاکلې وخت کې د محکمې په حکم باندې خپل اعتراض وړاندې نه کړي نو د محکمې حکم قطعي بلل کېږي.
ـ دغه فورمه درې نقله لري یو نقل په مربطه دوسیه ،دویم د محګمې په تحریراتو او دریېم نقل یې محکوم علیه ته ورسپارل کېږي .
۵۹سوال : شهریه یا تابلو څه ته وایي؟
ځوب : د م،م،د،ا،ق د ۳۷ ماد څوارلسمې مادې مطابق دا هغه چوکاټ او تابلو ده چې ټول وثایق په هغې کې درج دي او دمحکمې قیمتي شرعي سند دی دغه دفتر د محکمې تحریراتو دفتر کې ساتل کېږی او د اړتیا وخت کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.
۶۰سوال : د محصولی د تعرفې دفتر اهمیت څه دی؟
ځواب : اهمیت یې د پیسو په تحویل کې دی، هغه داسې چې محکمه د پیسو تادیه کونکی شخص ته تعرفه ورکوی چې اړوند د بانک څانګه کې پیسې تحویل کړي ، که دې سیمه کې دبانک څانګه نه وه،نو ددولت د مالیې حساب د خزانې دفتر ته د پیسې تحویل کړي چې دا کار د مراجعینو لپاره اسانتیا ده.
۶۱سوال : مکتوب تعریف کړئ؟
ځواب : مکتوب هغه مهم اداري سند دی چې دهغې په واسطه له مهمو موضوعاتو لکه: لارښونې ،اوامر، مقررې ، داجراتو راپورونه ، د لارښوونو ورکول او نور له لوړو مقاماتو څخه ښکتنیو او له ښکتنیو څخه لوړو مقاماتو ته د ورستیو اجراتو لپاره خبر ورکوي.
۶۲سوال : د مکتوب ځانګړتیاوې په ګوته کړئ؟
ځواب : ۱:هغه ورقه باید مستنده او کمپیوټري وي ۲: دمکتوب متن به د لوستو وړ وي او مورد نظر موضوع به ارایه کوي ۳: مکتوب به نمبر لري ۴: مکتوب به نیټه لري ۵: دمکتوب د لیږلو او اخیستلو مراجع به معلوم وي ۶: دلیږونکي مرجع مسؤل شخص لاسلیک به پرې وي.
۶۳سوال : استعلام تعریف کړئ او همدارنګه د استعلام او مکتوب توپیر په څه کې دی؟
ځواب : دا هم یو اداري سند دي چې په واسطه یې مختلف دولتي او خصوصي ارګانونه دنظر وړ موضوعاتو په اړه د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره له افرادو او نورو مراجعو څخه له پورته څخه ښکته او له ښکته څخه پورته استفاده کوي. استعلام د مکتوب برعکس د ثبت نمبر نلري او له اخیستونکي مرجع څخه د ځواب د ارایه کولو مستلزم وي.
۶۴سوال : د مجلة الاحکام په کومه ماده کې دعوه تعریف شوې، تعریف او ماده یې هم په ګوته کړئ؟
ځواب : د مجلة الاحکام په ۱۶۱۳ ماده کې دعوه د قاضي پر وړاندې د خپل حق غوښتلو ته وایې .
۶۵سوال : د م،م،ا،ق په اساس دعوه تعریف او ماده یې په ګوته کړئ؟
ځواب : د م،م،ا،ق ۵ مادې دعوه داسې تعریف کړې ـ د محکمې پر وړاندې له پردي څخه د خپل حق غوښتلو ته وایې .
۶۶سوال : دمدنی محاکمو قانون په اساس مدعی اومدعی علیه چاته ویل کېږي؟
ځواب : د م،م،ا،ق ۶ ماده ـ ۱ جز: مدعي هغه چاته ویل کېږي چې پوره شرعي او حقوقي اهلیت ولري او د حق غوښتونکی وي .۲جز: مدعي علیه هغه دی چې پوره شرعي اوحقوقي اهلیت ولري او له ده څخه حق غوښتل کېږي .
۶۷سوال : مدعي بها کومو حقوقو ته شاملېږي؟
ځواب : د م، م، ا، ق ۸مه ماده مدعي بها هغو حقوقو ته شاملېږي چې دافغانستان قوانینو یې یادونه کړي وي او ددعوي موضوع ګرځیدلای شي.
۶۸سوال : د دعوی د مشروعیت دلایل کوم دي؟
ځواب : د دعوې د مشروعیت دلایل دوه دي .۱ ـ عقلي دلیل ۲ ـ نقلي دلیل
۶۹سوال : د یوې محکمې اساسي ارکان کوم دي؟
ځواب : د یوې محکمې اساسي ارکان شپږ دي ۱: محکوم له ۲: محکوم علیه ۳: محکوم به ۴:محکمه ۵: حاکم ۶: حکم
۷۰سوال : په عمومي ډول دعوه په څو ډوله ده، هر یو تعریف کړئ؟

ځواب : دعوه په عمومي ډول دوه ډوله ده .۱: صحیح دعوه: هغه دعوی ده چې احکام وریوری اړه نیسي.۲:فاسده دعوه هغه دعوی ده چې احکام وریوري اړه نه نیسي یا د صحیحي دعوې خلاف وي.
۷۱سوال : د صحیحي دعوی احکام کوم دي؟
ځواب : د مدعي علیه احضار، د ځواب مطالب، دځواب لزوم، په بینه سره اثبات، د حصرد انکار او د مدعي له اثبات نه دعاجز کېدو په صورت کې د مدعي علیه لوړه، د احضار د مدعي لزوم یا صحیح دعوه د شخص غوښتنه د قاضي پر وړاندې چې دصحت شرایط ولري دعوه اوریدل کیږي او حکم پرې کیږي .
۷۲سوال : صحیح دعوه په څو ډوله ده؟
ځواب : صحیحه دعوه دوه ډوله ده ۱: حقوقي دعوه ۲: جزایي دعوه

۷۳سوال : د دین دعوی په څو ډوله ده؟
ځواب : د دین دعوه اته ډوله ده ۱:د قرض حسنه دعوه ۲: دمسلم فیه ۳: ثمن د مبیعې ۴: داجارې بدل ۵: ضمان د مستهلک ۶: ضمان داستحقاق ۷: د ښځې د مهر دعوې ۸: د ښځې د نفقې دعوې
۷۴سوال : د مالي حقوقي دعوی ډولونه کوم دي؟
ځواب : مالي حقوقي دعوه دوه ډوله ده ۱: دعین دعوه ۲: ددین دعوه

۷۵سوال : د غیر مالي حقوقي دعوی ډولونه کوم دي؟
ځواب : ۱: دنکاح دعوه ۲: طلاق ۳: رضاع ۴:لعان ۵: حضانت ۶: نسب ۷: وصایت ۸: وکالت ۹: دعنین توب دعوه
۷۶سوال : د عین دعوی په څو ډوله ده؟
ځواب : د عین دعوه دوه ډوله ده ۱: دعقار دعوه ۲: د منقولو اموالو دعوه
۷۷سوال : د دعوی د صحت شرایط کوم دي؟
ځواب : د دعوې د صحت شرایطه عمومي شرایط ، خصوصي شرایط
۷۸سوال : ددعوی دصحت د عمومی شرایطواوخصوصی شرایطو تر منځ توپیر واضح کـړی؟
ځواب : ددعوې د صحت عمومي شرایط په ټولو دعواوو کې په عمومي ډول پلي کیږي خو ددعوې دصحت خصوصي شرایط ځانګړي شرایط دي اوپه ټولو دعواوو کې نه پلي کیږي .
۷۹سوال : ددعوی دصحت دعمومی شرایطو یواځی نومونه واخلی ؟
ځواب : عمومي شریط په لاندي ډول دي: ددعوې د طرفینو اهلیت، دمدعي علیه معین والي، ددعوې د طرفینو حضو، د مدعي بها تعین، د طرفینو رضایت، دعوه به محتمل الثبوت وي، مدعي بها به شرعاً ملزم وي په مدعي علیه باندې، ددعوې اقامه د قضاء په مجلس کې او دعوې باید متناقضه نه وي.
۸۰سوال : په قضایی جلسه کی د مدعی علیه حضور په څو ډوله دی واضح یی کړي؟
ځواب : په قضایی جلسه کې دمدعي علیه حضور دوه ډوله دی . حقیقي حضور، حکمي حضور
۸۱سوال : د مجله الحکام په اساس د مدعی بها تعین په کومو ډولونو کیږي واضح یی کـړی؟
ځواب :
الف: مدعي بها به عقار او جایداد وي.
ب: مدعي بها به وزني وي.
ج: مدعي بها به عددي څیزونه وي.
د: که چیرته مدعی بها دین وي په مدعي باندې لازم دي چې د جنس وصف او مقدار بیان کړي.
ه: که مدعي بها منقول وی او دهغې راوړل مجلس ته امکان ولري پدې صورت کې په مجلس کې مدعي بها په مجلس کې په اشارې سره هم ترسره کیداي شي. او که چیرته مجلس ته دراوړلو وړ نه وی نو دهغې تعین د وصف، تعریف او قیمت له لیاري ترسره کیږي.
۸۲سوال : د محتمل الثبوت او مستحیل الثبوت مفاهیم واضح یی کـړی؟
ځواب : محتمل الثبوت یعنی مدعي بها به د شریعت ،عقل اوعادت له مخې ددعوې کولو وړ وي.او برعکس مستحیل الثبوت کې مدعي بها د شریعت ،عقل اوعادت له مخې ددعوې کولو وړ نوي.
۸۳سوال : عقار تعریف کـړی؟
ځواب : عقار له هغو شیانو څخه عبارت دی چې ثابت اصل ولري او لیږ رالیږ یې دهغه داصل د اتلاف لامل ګرځي.
۸۴سوال : د عقار ددعوی خصوصی شرایط کوم دي؟
ځوب: الف: د مدعي لپاره شرط ده چې خپله دعوه کې د کلي ،ګذر ښار او خپل نوم او د عقار موقیعت ذکر کوي.
ب: په دعوه کې د عقار اربعه حدودو یادول شرط دي.
ج: که عقار غصب شوي وي نو مدعي به دا ذکر کوي چې دا زما دی او مدعي علیه رانه په زور غصب کړي دی.
د: په مغضوبه عقار کې چې مدعي کوم ادوات د کار نصب کړي دي هغه به ذکر کوي لکه ژرانده ،کارګاه او نور ...

ه: مدعي باید په عقار کي  د مدعي علیه ذوالیدي ذکر کړي خو ددعوې د تعرض په دفعه کي بیا دا نه ذکر کېږي بلکي د تعرض دفعې په دعوه کې به مدعي په مدعي بها باندي خپله ذوالیدي ثابتوي.
۸۵سوال : د مدنی قانون په اساس عقد تعریف کـړی؟
ځواب : د مدني ق ۴۹۷ مې مادې لومړي بند عقد داسي تعریفوي: عقد د دوو ارادو له توافق څخه عبارت دي چې د حق په ایجاد ، ازالې، تعدیل یا انتقال باندې د ق په حدودو کې توافق کوي .
۸۶سوال : شفع تعریف کړي؟
ځواب : شفع پر مشتري باندې د ثمنو یا د تر سره شویو مصارفو په مقابل کې د ټول یا ځینې پلورل شوي عقار دتملک له حق څخه عبارت ده چې وي، که په اجباري دول هم وي.
۸۷سوال : واک تعریف کړي؟
ځواب : واک هغه اختیار او توانایي ده چې ق محاکمو ته د منازعاتو د حل او فصل لپاره ورکړئ ترڅو ددې واک څخه په استفادې سره منازعات او فصل کړي.
۸۸سوال : حوزوي واک تعریف کړي؟
ځواب : حوزوي واک هغه دی چې د هغې جغرافیاوې سیمې په حدودو کې شامل وي چیرته چې مدعي علیه موجود وي. لکه د یوې ولسوالی  دواک د ساحی ټولې سیمې چې دولسوالی تر ولکې لاندې دي حوزوي واک کې راځي.
۸۹سوال : موضوعي واک تعریف کړي؟
ځواب : موضوعي صلاحیت عبارت له هغو موضوعاتو څخه دی، چې یاده شوي محکمه هغو موضوعاتو ته د رسیده ګی په هدف جوړه شوي وي اوکله کله یوي محکمي ته دیوي قضیې صلاحیت ور تفویض شوي وي ، چې له موضوعي صلاحیت څخه مستثنی دې.
۹۰سوال : په ابتدائیه محاکمو کې مدني دعوي د کومې تګلارې پربنسټ څېړل کیږي؟
ځواب : په ابتدائیه محکمه کې مدني دعوې ته ددعوې دوړاندې کولو، دموضوع د تحقیق او دبا صلاحیته محکمي له لوري رسیده کېږي .
۹۱سوال : پینځه ابتدائیه اعتراضونه ولیکي؟
ځواب : ۱ـ دمحکمې له خوا قضیې ته درسیده ګی عدم صلاحیت.۲ـ دمدعي او مدعي علیه د اهلیت او صلاحیت نه شتون.۳ـ مدعي علیه ته د مندرجي ادعا نه متوجه والي. ۴ـ دعارض او معروض علیه تر مینځ پدې موضوع کې د پخواني قضایي حکم صدور.۵ـ دغیر منقول مدعي بها دمثبته اسنادو په اتکا د مدعي علیه عدم ذوالیدي.
۹۲سوال : دمدني محاکمو د اصولود قانون په رڼا کې قرار تعریف کړي؟
ځواب : د محکمې قرار هغه قضایي تصمیم دی چې ددعوې ماهیت ته متوجه نه وي او په شکل کې ورته رسیده ګي کوي .
۹۳سوال : قرار تعریف کړي؟
ځواب : قرار هغه تصمیم دی چې له محکمې څخه زیات صادریږي او د محکمې د اجراتو عمده برخه تشکیلوي.  او یا هم د م،م،ا،ق ۲۶۷مه ماده روښانوي چې:( دمحکمې قرار هغه قضایي تصمیم دي چې ددعوې ماهیت ته متوجه نه وي او په شکل کې ورته رسیده ګی کیږي.)
۹۴سوال : صورت دعوي تعریف کړي؟
ځواب : صورت دعوه هغه حقوقي سند دی چې متضرر شخص هغه په محکمه کې اقامه کوي او له مقابل جانب څخه د ق په رڼا کې خپل حق غواړي. یا صورت دعوه هغه حقوقي سند دی چې دعریضې تفصیل تشکیلوي .
۹۵سوال : صورت دعوي څو برخې لري نومونه یې ولیکی؟
ځواب : صورت دعوه پینځه برخې لري ۱ـ عنوان ۲ـ مقدمه ۳ـ دپیښې لنډ جریان ۴ـ دثبوت دلایل ۵ـ غوښتنه
۹۶سوال : جلب تعریف کړي؟
ځواب : جلب په لغت کې غوښتلو ته وایي او په اصطلاح کې هغه صادره شوي رسمي پاڼه ده چې د واک لرونکي مقام لخوا د مجلوب د حاضریدو لپاره مرجع ته دیوي معیني موضوع د څیړلو لپاره صادریږي او اړونده مرجع ته مطرح وي .
۹۷سوال: د جلب موضوع څه وخت د محکمي له لوري مطرح کیږي؟
ځواب : دجلب موضوع هغه وخت مطرح کېږي چې ددعوې له طرفینو څخه یو طرف په معینه ورځ محکمې ته حاضر نه شي .

۹۸سوال : په جلب کې کوم موضوعات شامل دي؟
ځواب : په جلب کې د مربطه محکمې نوم اوپته ، ددعوې د طرف دقیقه پته اوشهرت ، دحاضریدو نېټه او وخت ، دموضوع معرفي ، داړونده موضوع داسنادو په برابرولو کې مجلوب ته ځینې یادوني ،دنه حاضریدو له عواقبو څخه اخطار.

۹۹سوال : که چیرته مجلوب د جلب په ورقه کې له لاسلیک کولو څخه ډډه وکړي په دي صورت کې باید کوم اجراأت ترسره شي؟
ځواب : پدې صورت دکلي دشورا مسؤل (دکلي وکیل ، دکلي مالک یا د کلي ملا امام )یا دده دسیمې دوه کسه ګاونډیانو څخه لاسلیک اخیستل کیږي.
۱۰۰سوال : په مدني محکمه کې څه وخت غیابي حکم صادریداي شي؟
ځواب : درې حالاتو کې:
۱: په هغه صورت کې چې د متخاصمینو له ډلې څخه یو تن محکمې ته له حضور څخه انکار وکړي.
۲: په هغه حالت کې چې د محکمې د حکم په بهیر کې له متخاصمو لورو څخه یو یې له غونډې څخه بهر ووځی.
۳: هغه حکمونه چې د غایب د حکمې وکیل په حضور کې د محکمې له لوري صادریږي.

۱۰۱سوال : احضار څه ته وایي؟
ځواب : د محکمې له خوا د پولیسو په واسطه ددعوې دطرفینو حاضرول محکمې ته له احضار څخه عبارت دي.
(دقوې په استعمال سره محکمې ته داشخاصو حاضرول عبارت له احضار څخه دي )
۱۰۲سوال : د احضار او جلب ترمنځ توپیر په لنډو ټکو کې په ګوته کړي؟
ځواب : جلب د واک لرونکي مقام له خوا دمجلوب د حاضریدو لپاره صادریږي خو که چیرې مجلوب دجلب په اساس حاضر نه شو نو بیا شخص د قوې په استعمال سره د محکمې له خوا دپولیسو په واسطه احضاریږي.
۱۰۳سوال : آیا د افغانستان په محاکمو کې د خبرولو موضوع د نورو هیوادونو د محاکمو د خبرولو له موضوع سره توپیر لري؟ روښانه یې کړي.
ځواب : هو توپیر لري ځکه افغانستان کې ددعوې طرفین په جبري ډول جلب او احضاریږي خو د نورې نړۍ په اکثره هیوادونو کې بیا په جبري ډول نه جلب اونه احضاریږي .یا په افغانستان کې دمدعي غیابت د محکمې داجراتو د تواقف سبب کیږي . خو دنړۍ اکثره هیوادونو کې دمدعي غیابت د محکمې داجراتو د تواقف سبب نه کیږي .
۱۰۴سوال : هر کله چې مدعي علیه محکمې ته له راحاضریدو څخه اصالتاً پخپله یا دوکیل له رالیږلو څخه منع وکړي او احضار یې امکان ونلري په دې صورت کې باید محکمه کوم اجراأت ترسره کړي؟
ځواب : نو پدې صورت کې محکمه تر دریبو وارونو پوري ده ته د جلب ورقه لیږي او ترینه غواړي چې محکمې ته راحاضر شي او که حاضر نه شو او مدعي ټینګار وکړ نو محکمه د جلب او احضار شرایطو سره سم دده اوله درجه خپلوانو څخه یو تن د وکیل په توګه نیسي او دعوی ته رسیدهګي کوي خو که اوله درجه خپلوانو یې دوکالت شرایط نوي پوره کړي ،اویا ډډه وکړي نو بیا دلیکلي تجویز پر بنا محکمه مدني څارنوال نیسي اودعوه څیړي یا وکیل مسخر ورته ټاکي او موضوع ته رسیده ګي کوي او که غایب مدعي علیه معقول او قانوني عذر ولري ،پدې شرط چې محکمې ته خبر ورکړي نو قضیه تر ۲ میاشتو پوري ځنډول کیږي او همدارنګه کولی شي دغه موده نور هم تمدید کړي.
۱۰۵سوال : په هغه صورت کې چې د غایب لومړي درجه خپلوان خاوند یا میرمن یې دوکالت شرایط بشپړ نکړي یا خپلوان د وکالت له منلو څخه ډډه وکړی په دې صورت کې باید محکمه څه وکړي؟
ځواب : نو پدې صورت کې محکمه کولای شي چې دغایب شخص لپاره مدني څارنوال یا مسخر وکیل وټاکي ترڅو دعوه پر مخ یوسي .
۱۰۶سوال : د مسخر وکیل انتخاب د کومې محکمې صلاحیت ده؟
ځواب : د مسخر وکیل انتخاب د مدني محکمې صلاحیت دی.
۱۰۷سوال : غیابي حکمونه څو ډوله دي؟
ځواب : غیابي احکام درې ډوله دي ۱- په هغه صورت کې چې د متخاصمینو څخه یو تن محکمې ته له حضور څخه انکار وکړي ۲- هغه احکام چې د محکمې له لوري د متخاصمینو له ډلې دیو تن دانکار په پایله کې صادریږي ۳- هغه احکام چې په غایب د ده د حکمې وکیل په حضور کې صادریږي ،دا بیا په دوه ډوله دی ۱- یو هغه څه په غایب باندې دعوه شوي ده په حتمي توګه به دیو شي سبب وي .۲- دا چې د وارثانو له ډلې څخه هر یو د خپل وارث ځای ناسی (قایم المقام) وي .
۱۰۸سوال : دمدني محاکمو د اصولو د قانون پر بنسټ د صورت دعوي او دفاعي د ترتیب لپاره څو ورځې ټاکل شوی دي؟
ځواب : دم، م،ا،ق د ۲۴ مادې په اساس د صورت دعوې او دفاعیي لپاره د ۱۵-۳۰ ورځې ټاکل شوي دي.
۱۰۹سوال : د مدني محاکمو د اصولو د قانون پربنسټ د جلسي د منشي مکلفیتونه څرګند کړي؟
ځواب : دم،م،ا،ق د۵۳ مادې مطابق د جلسې منشي مکلف دی چې دمحاکمې په ارتباط ددعوې ټول جریان ، مدافعات ، دشاهدانو شهادت او داهل خبره وو څرګندونو پورې مربوط دمحکمې ټول بهیر له کموالي څخه د غونډې په محضر کې قید کړي او دهغې په پاې کې د رئیس او اړوندو کسانو لاسلیک تر لاسه کړي ،دجلسې ګډنوال د قضایې جلسې د نظم په رعایت مکلف دي.

۱۱۰سوال : که چیرته مدني څارنوال د جلسي نظم اخلال کړي محکمه دهغه پروړاندي څه عکس العمل ښايي؟
ځواب : که چیرته مدني څارنوال د جلسي نظم اخلال کړو نو محکمه د قضايي قرار په صادرولو سره هغه بدلوي.
۱۱۱سوال : په کومو حالاتو کي د افغانستان په محاکمو کي جلسي په سري يا پټه توګه دايريږي؟
ځواب : په هغه حالت کي چي په علني ډول محکمه عامه نظم له منځه وړي، اويا د اشخاصو دژوند د پټو رازونو د افشا کېدو باعث ګرځي .
۱۱۲سوال : په محاکمو کي په علني ډول د دعواوو د څيړلو اهميت او منطق په څه کي ده؟
ځواب : په علني ډول د دعواوو د څيړلو اهميت او منطق پدې کي دی چي دخلکو اعتماد په محاکمو زيات شي،او له بلې خوا په قضايي دستګاه کي په نفس باندې د اعتماد روحيه تقويه شي .
۱۱۳سوال : غيابي حکمونه کومو حکمونو ته ويل کيږي؟
ځواب: کله چي مدعي عليه محکمي ته له راتګ څخه اصالتاً پخپله او يا دوکيل له راګيلو څخه منع وکړي او احضار يي امکان ونلري نو محکمه تر دريو وارونو پوري ورته د جلب پاڼه ليږي او که چيرته بيا هم شخص حاضر نشو نو پدې صورت کي محکمه دهغه په نه شتون کي پريکړه کوي چي همدېته غيابي حکم وايي.
۱۱۴سوال : په افغانستان کي حضوري احکامو ته لومړيتوب ورکول کيږي او که غيابي حکمونو ته؟
ځواب : په افغانستان کي حضوري احکامو ته لومړيتوب ورکول کيږي ځکه پدي حالت کي مدعي عليه له ځانه ښه دفاع کولی شي ،او هم قاضي ته ددعوې د طرفينو ددلايلو دقوت او ضعف په اړه معلومات حاصليږي چي يو ښه او عادلانه حکم وکړي. يـــــــــــــا په افغانستان کي حضوري احکامو ته لومړيتوب ورکول کيږي دا ځکه چي له يوې خوا په حضوري احکامو کي عدالت په ښه شکل تطبيقيږي اوله بلی خوا امام ابوحنيفه له غيابي احکامو سره مخالفت کړی.
۱۱۵سوال : د نړي په کومو هيوادونو کي غيابي حکمونه منل شوي او صادريږي؟ دنوموړو هيوادونو د قوانينو مواد بيان کړي.
ځواب : ۱ـ د انګلستان د م،م،ا،ق ۱۲ ماده ۲ـ د امريکا متحده ايالاتو د م،م کود ۵۵ ماده ۳ـ د فرنسي د م،م نوی کود ۴۷۱ ماده ۴ـ دايران اسلامي جمهوريت د م،م،ق ۳۰۳ ماده
۱۱۶سوال : د مدني محاکمو د اصولو قانون د اهل خبره د نظرياتو په اړوند څه څرګندونه لري؟
ځواب : ۱ ـ محکمه کولی شي چي ديوي دعوې دموضوع په اړه د اهل خبره نظريات چي د مسلک او تحصص په اساس وړاندې کوي او د شريعت د اصولو سره سم چي دښو صفاتو او نيک شهرت څښتن وي ددعوې د طرفينو په غوښتنه او يا خپل تجويز مطالبه کړي. ۲ـ اهل خبره د فعاليت ترپيل وړاندې قسم يادوي چي خپله دنده به په امانت سره تر سره کوي.
۱۱۷سوال : په هغه صورت کي چي د اهل خبره وو نظر د دعوی د طرفينو له لوري رد شي په دي صورت کي محکمه څه اقدام کوي؟
ځواب : په هغه صورت کي چي د اهل خبره وو نظر د دعوی د طرفينو له لوري رد شي نو محکمه ديوي مياشتي په ترڅ کي د رد په اړه تصميم نيسي که د رد دلايل معقول ثابت شي ،نواهل خبره نشي کولی د دوم ځل لپاره په موضوع کي ابراز نظر وکړي بلکي موضوع به نورو اهل خبره ته راجع کېږي.
۱۱۸سوال : د مدعي بها تعريف، توصيف او قيمت ګذاري بايد څه وخت د اهل خبره وو له لوري ترسره شي؟
ځواب : ددعوې د دوران او په صورت حال کي د شاملولو څخه مخکي بايد مدعي بها تعريف، توصيف او قيمت ګذاري شي ترڅو د حکم دصدور څخه وروسته د مدعي بها قيمت ګذاری په برخه کي کوم مشکل پاتي نه شي.
۱۱۹سوال : د مدعي، دعوی د کومو مواردو پربنسټ ثابتېدلی شي؟
ځواب : : د مدعي، دعوی داقرار ، بينه ، اسنادو ، شهودو ،قراين ، قسم او دقسم څخه د نکول په اساس ثابتېدلی شي.
۱۲۰سوال :د مدني محاکمو د اصولود قانون پربنسټ په مدني قضاياوو کي د محاکماتي پړاوونو موده څو ورځي ده؟
ځواب : د مدني محاکمو د اصولود قانون ۲۰۰،۲۰۱،۲۰۲ مادو پربنسټ په مدني قضاياوو کي د محاکماتي پړاوونو زياته موده څلور مياشتي ده يعنی پدې موده کي بايد حکم صادر کړي خو په ځينو مواردو کي دغه موده تر يوي مياشتي نور هم تمديد کېدای شي.
۱۲۱سوال : په مدني دعواوو کي د رسيده ګي پيل له کوم وخت څخه محاسبه کيږي؟
ځواب : په مدني دعواوو کي د رسيده ګي پيل له هغه وخت څخه محاسبه کيږي چي دعوي صورت حال ته جګه يا پورته شي.
۱۲۲سوال : دمدنی محاکمود اصولو دقانون په اساس کوم اشخاص په قضايی جلسه کی ګډون نشی کولای؟
ځواب : دمدنی محاکمود اصولو دقانون ۴۴ مادې له مخې ،هغه شخص چي د ۱۵ کلنی عمريې نه وي بشپړ کړی او په قضيه کې نوي شامل ،په قضايي جلسه ګډون نه شي کولی .

۱۲۳سوال : مدافع وکيل څه وخت په قضايي غونډو کي ګډون کولای شي؟

ځواب : مدافع وکیل هغه وخت په قانوني توګه په قضایي جلساتو کې ګډون کولی شي چې په هغه جلسه کې تر ګډون وړاندې ،خپل د وکالت جوازپاڼه محکمې ته وړاندې کړي.
۱۲۴سوال : د قضایي د غونډې رهبري او انتظام د چا دنده ده؟
ځواب : د قضایي غونډې رهبري او انتظام دجلسې د رئیس صلاحیت او واک دی.
۱۲۵سوال : د محاکمو دواک اوتشکیل له قانون سره سم د قضایي هئیت شمیر روښانه کړي؟
ځواب : د محاکمو دواک اوتشکیل ق ۶۹ مادې مطابق قضایي هئیت له دریو کسانو څخه جوړ شوي وي (یو رئیس ،او دوه تنه غړي)
۱۲۶سوال : په کومو واردو کې د محکمې رئیس او غړي د مدني دعوې له څیړلو څخه ډډه کولای شي؟
ځواب : د م،م،ا،ق ۶۵ مادې له مخې لاندې حالات دي:
۱- په هغه صورت کې چې په قضیه کې له یوه اړخه ذیدخل اشخاص د قاضي داصولو او فروعو څخه وي.
۲- په هغه صورت کې چې په مطروحه قضیه کې قاضي وړاندې د څارنوال ، حکم ، اهل خبره یا شاهد په توګه خپل نظر څرګند کړی وي. ۳- په هغه صورت کې چې د مطروحه دعوې یو اړخ خپله رئیس یا د محکمې یو تن غړی وي. ۴- په هغه صورت کې چې د محکمې درئیس اویا د یو تن غړو له ډلې ددعوې دیو طرف سره مخکې کوم خصومت یا شخړه موجوده وي.
۱۲۷سوال : په کومو حالتونو کې په مدني دعوي کې د قاضي ګډون جواز نه لري؟
ځواب : د م،م،ا،ق ۶۸ مادې مطابق لاندې حالات دی. ۱- په هغه صورت کې چې د قضیې په ابتدایه رسیده ګې کې ګډون کړی وي. ۲- په هغه صورت کې چې د ستري محکمې په دیوانونو کې یې قضیې ته رسیده ګي کړې وي.
۱۲۸سوال : د قضایي غونډې د تنظیم په اړه د مدني محاکمو د اصولو مواد روښانه کړي؟
ځواب : د مدني محاکمو د اصولود قانون ۴۵-۵۶ مادې له مخې د قضایي جلسې تنظیم د جلسې د رئیس صلاحیت دی.
۱۲۹سوال : د مدني محاکمو د اصولو د قانون د ۵۹مې او ۶۰مې مادو د حکم پربنسټ د قضایي غونډې اخلالونکی په کومه جزا محکومیږي؟
ځواب : د مدني محاکمو د اصولو د قانون د ۵۷مې د حکم پربنسټ د قضایي غونډې اخلالونکی په نغدی جریمه چې له دریو زرو افغانیوڅخه زیاته نه وي او یا په بند چې له یوې اونی څخه زیات نه وي محکومیږي.
۱۳۰سوال : قضایي بحثونه روښانه کړي؟
ځواب : قضایي بحثونه عبارت دي د مدعي ،مدعي علیه اوددوي د قانوني ممثل له اظهاراتو څخه او دا شان ددریمو هغو اشخاصو اظهارات چې د قضیې درسیده ګی په ترڅ کې یې دبیلې عریضې له لاري محکمې ته وړاندې کړي وي، دغه شان د مدني څارنوال هغه اظهارات چې قضیې ته شامل وي او نر هغه مطالب چې د قضیې د جریان لپاره مستند وي واقع کیږي.
۱۳۱سوال : د مدني محاکمو د اصولو د قانون له مخې د مدني محاکمو د حکم د صدور سببونه روښانه کړي؟
ځواب : د مدني محاکمو د اصولو د قانون ۲۷۲ له مخې په لاندې ډول دي. ۱- اقرار ۲- بینه (اسناد ،شاهدان او قراین) ۳- قسم او له قسم څخه نکول.
۱۳۲سوال : اقرار راوپیژني ؟
ځواب : د م،م،ا،ق ۲۷۳ مادې مطابق اقرار دمحکمې پر وړاندې د پردي د حق له ثابتولو څخه عبارت دي په خپل ځان باندې.
۱۳۳سوال : د اقرار کوونکي اقرار په کومو حالتونو کې په نورو هم اغیزه کوي؟
ځواب : په لاندې حالتونو کې د اقرار کوونکي اقرار په نورو هم اغیزه کوي: ۱- کله چې یوه اصیله بالغه ښځه د بل پر دین اقرار وکړي او دهغې میړه دا اقرار دروغ وبولي؛ نو ددین دنه ورکولو په صورت کې نیول کیږي او ددین د ادا کولو نیټه ورڅخه اخیستل کیږي، په دې صورت کې د ښځې د اقرار په وجه د هغې میړه له هغې د ګټې اخیستنې نه متضرره کیږي. ۲- کله چې اجاره کوونکي د بل پر دین پرخپل ځان اقرار وکړي او دین پرته د هغه مال یا ملکیت چې په اجاره یې ورکړي له بلې لاري نه شی ور ادا کولای، په دې صورت کې اجاره کې اخیستونکي د اجاره ورکوونکي له اقرار څخه زیانمنیږي، ځکه هغه مجبور دي چې دا اجاره ورپریږدی او اجاره ورکوونکی خپل دین پرې ادا کړي.

۱۳۴سوال :د اقرار د ډولونو یوازې نومونه په ګوته کړي؟
ځواب : ۱- لفظي اقرار ۲- ایشاروي یا په ایشارې سره اقرار ۳- لیکلی اقرار ۴- په چوپتیا یا سکوت سره اقرار
۱۳۵سوال : د اقرار د صحت شرطونه روښانه کړي؟
ځواب : ۱- مقر پرې مربوط شرطونه ۲- مقر پورې (هغه څوک چې اقرار د هغې په ګټه وي) مربوط شرطونه ۳- مقر به پورې مربوط شرطونه

۱۳۶سوال : په اقرار کونکي ( مقر) پوري اړونده شرطونه روښانه کړي؟
ځواب : ۱ـ مقر باید عاقل اوبالغ وي ۲ـ اقرار کونکي به اقرار په وینه کړي وي ۳ـ اقرار کونکی به معلوم وي ۴ـ مقر به مکره نه وي ۵ـ اقرار به شرط پوري تړلی نه وي ۶ـ ظاراً به مکذب نوي ۷ـ اقرار به یې د محکمې پر وړاندې ترسره کړی وي
۱۳۷سوال : د اقرار د بطلان عوامل روښانه کړي؟
ځواب : ۱ـ یو په هغه صورت کې اقرار باطلیږي چې مقر له د مقر اقرار رد کړي باید ووایو دغه اقرار یوازې دبنداګانو په حقوقو کې کېدای شي ۲ـ د اقرار څخه د رجوع په حالت کې اقرار باطلیږي دغه حالت اکثره په حقوق الله کې راتلی شي لکه د زنا په حد کې بیرته رجوع د خپل اقرار نه
۱۳۸سوال : د مدني قانون د موادو په رڼا کې له اقرار څخه رجوع جواز لري او که نه؟
ځواب : د مدني قانون ۱۰۰۹ مادې په اساس مدني موضوعاتوکي د اقرار څخه رجوع کول صحیح نه دي.
۱۳۹سوال : د مقر له شرایط روښانه کړي؟
ځواب : ۱ـ مقر له به د اقرار په وخت کې په حقیقي او حکمي توګه موجود وي. ۲ـ مقر له به مجهول نه وي
۱۴۰سوال : په مقربه پوري اړونده شرطونه روښانه کړی؟
ځواب : ۱ـ مقر به ، به عقلاً او شرعاً محال وي ۲ـ اقرار به پداسې څه کې وي چې د خلکو تر دود اودستور وي یعنی د خلکو دعادت خلاف به نه وي
۱۴۱سوال : مقربه تعریف کړي؟
ځواب : مقر به هغه جنس دی چې مقر پر هغې د خپل ځان په تاوان د بل چا په ګټه اقار کړی دی .
۱۴۲سوال: بینه (دلیل ) تعریف او ډولونه یې روښانه کړي؟
ځواب : بینه د بین له کلمې اخیستل شوی چې د دلیل او حجت په معنی دی.په اصطلاح کې د فقهي له نظره بینه هغه دلیل دی چې د حقیقت په اظهارولو دلالت وکړي او د محکمې په وړاندې د ثبوت د وسیلې په صفت وړاندې شي.
۱۴۳سوال : د اقرار او بینې ترمنځ توپیر روښانه کړي؟
ځواب : مجلة الاحکام ۷۸ مادې مطابق بینه متعدي حجت دی او اقرار قاصره حجت دی
۱ـ متعدی حجت په دې معنی چې دهغې قوت یوازې محکوم علیه پورې موجود نه وي
۲ـ خو اقرار قاصره حجت دی چې یوازې د مقر په حق کې د اجرا وړ وي او دا ځکه چې مقر یوازې په خپل حق کې د اقرار کولو صلاحیت لري اوپه نورو هیڅ تاثیر نه لري.
۱۴۴سوال : اسناد تعریف کړئ؟
ځواب : اسناد د سندونو جمع ده او عبارت د هغه نویشتي څخه ده چې باور پرې کېدلي شي.
۱۴۵سوال : د مدني قانون په رڼا کې اسناد په ټو لیزه مانا را وپیژنئ؟
ځواب : د مدني قانون له نظره اسناد دوه ډوله دی ۱ـ رسمي اسناد ۲ـ غیر رسمي اسناد
چې بیا رسمي اسناد د مدني قانون ۹۹۱ مې مادې له نظره هغه سند دی چې د عامه خدماتو مؤظفین یا کارکنان د قانون د احکامو په اساس ، د خپل اختصاصي واک په حدودو کې هغه څه چې ددوی په وړاندې ګزارش کیږي او یا له ذي العلاقه اشخاصو څخه ترلاسه کوي ، په هغه کې درج او ثبت کړي وي ........
۱۴۶سوال : جعلي سندونو ته د رسیدګی پرمهال د مدني قانون له مخې کوم ټکي په پام کې نیول کیږي تصریح یې کړئ؟
ځواب : د م،م،ا،ق ۳۱۴ مادې په اساس جعلي سندونو ته رسیدګی په لاندې ډول دي
په خط کې دقت ، په لاسلیک کې دقت ، په مهر کې دقت ، په نښان کې دقت ، له تصحیح پرته قلم خوردګي ،تراش او ګل ،له امضاع او مهر پرته ګړې وړې لیکې ، د وثیقې د مشمولینو په تصویرونو کې تفاوت ، د وثیقې په اصل او ثبت کې تفاوت .
۱۴۷سوال : عرفي سند کوم سند دی او د مدني قانون له مخې یې را و پیژنئ؟
ځواب : د مدني ق ۹۹۱ مې مادې ۲ فقرې له مخې عرفي اسناد هغه سندونه دی چې د رسمي اسنادو ځانګړنه یې نه وي خپله کړي، خو اړونده کسانو وربادې لاسلیک ،مهر اویا دګوتې نښه لګولې وي.
۱۴۸سوال: شهادت تعریف کړئ؟
ځواب : شهادت له هغه خبر څخه عبارت دی چې دیوې موضوع په ارتباط د اشهد په لفظ سره شروع کیږي.
۱۴۹سوال : د شهادت شرطونه په دوه ډوله دي، د هغې له ډلې د تحمل شرطونه را وښیئ؟
ځواب : د تحمل شرطونه ۱ـ شاهدان به عاقل وي ۲ـ شاهدان به بالغ وي ۳ـ شاهدان به ړانده نه وي ۴ـشاهدان به ګونګیان نه وي ۴ـشاهدان به عادل وي
۱۵۰سوال : تحمل تعریف کړئ؟
ځواب : تحمل د لیدنې او اوریدنې پواسطه د پیښې له درکولو او په پیښه له پوهیدلو څخه عبارت دی.
۱۵۱سوال : عدالت د شهادت یو بنسټیز شرط دی ، دقران شریف د یو مبارک ایت په رڼا کې یې و وایاست؟

ځواب : عدالت د شهادت یو بنستیز شرط دی، ایت شریف (ممن ترضون من شهدآء)(البقره-۲۸۲).

۱۵۲سوال : د شهادت د ادا کولو د شرطونو یوازې نومونه واخلئ؟
ځواب : شهادت به د اشهد په لفظ سره وي، ۱- شاهدان باید متعدد وي ۲- شاهدان به ځیز په خپلو سترګو لیدلي وي ۳- شاهدات به په ۵ حواصو درک وي ۴- دشاهدانو او مدعي علیه تر مینځ به دښمني نه وي ۵- شهادت به د نفي نه وي ،متواتو شهود له دغه امر څخه مستثنی دي ۶- شهادت به د شاهد پر خپل فعل باندې نه وي ۷- دشاهدانو شهادت به له دعوې سره موافق وي ۸- شاهدت به ددعوې پر سبق باندې بنا وي
۱۵۳سوال : د اسلامي شریعت له مخې د شهودو شمیر په (زنا،حدود،حقوق العباد،او هغه ځایونو کې چې یوازې د ښځو لپاره شهادت مجاز دی ) څه ډول دی یوازې شمیر یې را وواییئ؟
ځواب : ۱- په زنا کې څلور نران شاهدان شرط دي ۲- په حدودو کې دوه عادل نران شاهدان ۳- په حقوق العباد کې دوه تنه نران او یا یو نر او دوه ښځې دی ۴- په هغه ځای کې چې پرته له ښځو څوک موجود نوي نو دښځو په شهادت اکتفا کېږي.
۱۵۴سوال : د شهودو پاکوالی (تزکیه) را وپیژنئ ؟
ځواب : تزکیه په لغات کې پاکوالي ته ویل کېږي او په اصطلاح کې د ذیصلاح محکمې هغه اجرات دي چې د شاهد د شهادت د ادا څخه وروسته د شاهد د عدالت دتثبیت په منظور تر سره کېږي.
۱۵۵سوال : د شاهدانو تزکیه په کوم وخت کې اړینه کیږئ؟
ځواب : د شاهدانو تزکیه هغه وخت صورت نیسي چې شاهد شهادت ادا کړي او قاضي له شخص څخه چې شاهدانو دهغه په ضد شهادت ورکړئ دی ، پوښتنه وکړي چې د شاهد په هکله څه ویل غواړي؟
۱۵۶سوال : تزکیه په څو ډوله ده؟
ځواب : دوه ډوله ده پټه تزکیه او ښکاره تزکیه
۱۵۷سوال : سري تزکیه راو پیژنئ؟
ځواب : دا دیوي تحریري ورقې له لارې چې (د مستوره په نوم یادېږي) ترسره کېږي. په دهغه ورقه کې د مدعي، مدعي علیه او شهودو او مدعي بها څخه یادونه کیږي وروسته نوموړې پانه په سرپټې پاکټ کې اچول کیږي او په سربانډي یې نښان او مهر لګول کیږي او هغو کسانوته چئ په توګه ټاکل شوي دي، ورلیږل کیږی کله چې پاکټ تزکیه کوونکو اشخاصو ته ورسید هغوی پدی اړه تدقیق او څیړنه کوي ...............
۱۵۸سوال : په پټه تزکیه کې محکمه د کومو پوښتنو په مطرح کولو پیل کوي وواياست ؟
ځواب : په پټه تزکیه کې محکمه لاندې پوښتنې مطرح کوي
۱- ایا یاد شوي شخص عادل دی او کنه ۲- ایا یاد شوي شاهد تر اوسه پورې په قذف مقذوف شوي او کنه ۳- ایا یاد شوي شاهد تر اوسه پورې کومه لویه ګناه کړې او کنه ۴- ایا یاد شوي شاهد پدغه قضیه کې ریښتنی دی او کنه
۱۵۹سوال : علني تزکیه تعریف کړئ؟
ځواب : علني تزکیه دارنګه ترسره کیږي، چې هغه کسان چې تزکیه کوي، د قضایي هیئت پرورړاندې په داسې حال کې چې د دعوې لوري هم شتون لري، راغوښتل کیږي او اصل شهود په علني ډول تزکیه کوي په دی ډول ترکیه کې قاضي تزکیه کوونکې او شاهد یوځای په هغه ځای کې راغوندوي چې په هغه ځای کې مزکي شاهد ته اشاره کوي او وايي دغه دې هغه شخص چې زه یې عادل بولم.
۱۶۰سوال : کله چې یو پلا شاهد په پټه تزکیه شي ،آیا دویم ځل کولای شو هغه په څرګنده توګه تزکیه کړو د فتح القدیر کتاب د حوالې نه یې را وواییئ ؟
ځواب :په فتح القدیر کتاب کې واجبه ده چې ددویم ځل لپاره په ښکاره هم تزکیه شي.
۱۶۱سوال : قرینه را وپیژنئ ؟
ځواب : قرینه عربي مؤنث لفظ دي چې جمع یې قراین دي په لغات کې دعلامې او نښې په معنی ده او په اصطلاح کې د هغې واقعي له استنباط څخه عبارت دي چې ثابته نه وي ، له هغې واقعي څخه چې ثابته وي.
۱۶۲سوال : د مصدر له مخې قرینه په څو ډوله ویشل شوي د هر یوه نوم واخلئ؟
ځواب : د مصدر له مخې قرینه په درې ډولو ویشل شوي دي .
۱- هغه چې په قران او سنتو سره ثابتې وي لکه د یوسف او زلیخا د کمیس موضوع
۲- فقهي قریني . چې مجتهد د خپل اجتهاد پواسطه استنباط کړي وي
۳- قضایي قریني . چې قاضي د خپل قضاوت په اساس استنباط کړي وي
۱۶۳سوال : قراین د مدلول سره د علاقې له مخې په څو ډوله ویشل شوي نوم یې واخلئ؟
ځواب : قراین د مدلول سره د علاقې له مخې په دوه ډوله ویشل شوي . ۱- عقلي قریني ۲- عرفي قریني
۱۶۴سوال : عرفي قراین راو پیژنه ؟
ځواب : عرفي قراین چې دلالت یې په مدلول باندې د عرف په بنسټ وي.

۱۶۵سوال : د قوت له مخي قراين په دوه ډوله دي هر ډول يي په ښکاره را وپيژنه ؟
ځواب : ۱ـ قاطعه قرينه ـ هغه ښه ده چي د يقين حد ته رسيدلي وي
۲ـ مستنبطه قرينه ـ هغه ظني او غالبه قرينه ده چي ددعوې د وقايعو او ددعوې د دواړو لوريو د تصرفاتو څخه استنباط شوي وي.
۱۶۶سوال : د قريني مشروعيت واضح کړئ؟
ځواب : په قريني سره قضا کول، يو اسلامي اصل دی او دحکم پر وخت کوم بل دليل لکه اقرار او شاهدي ته ضرورت نشته.
۱۶۷سوال : دروغجنه قرينه را وپيژنه ؟
ځواب : چي دهيڅ شي لکه علم يا ظن نه افاده کوي، هيڅ حکم پري نه مرتب کيږي او هيڅ دلالت ورته نه وي.
۱۶۸سوال : لوړه تعريف کړئ؟
ځواب : دمدعي هغه حق دي چي د نورو اثباتيه مدارکو د نه شتون په صورت کي په مدعي عليه باندې توجيه کيږي.
۱۶۹سوال: قرار د ارزښت له مخي په څو ډولو ويشل کيږي نومونه واخلئ؟
ځواب : قرار هغه تصميم دی چي له محکمي څخه زيات صادريږي او د محکمي د اجراتو عمده برخه تشکيلوي. قرار د اهميت له اړخه په دريو ډولونو ويشل کيږي: ۱ـ تحقيقاتي قراررونه.
۲ـ موقت قرارونه. ۳ـ نهايي قرارونه.
۱۷۰سوال : ځيرنيز قرار راو پيژنه ؟
ځواب : هغه دي چي دمحکمي د حکم دصدور څخه مخکي د دعوې د طرفينو څخه د يوه په غوښتنه او يا د محکمي د خپل تجويز له مخي صادريږي.
۱۷۱سوال : ځيرنير قرار په څو ډولونو دی نومونه يي واخله ؟
ځواب : دوه ډله دير. ساده ځيرنيزقرارونه ، قرينايي ځيرنيزقرارونه
۱۷۲سوال : موقت قرار واضح کړئ؟
ځواب : چي محکمه يي ددعوې ديو طرف دحقوقو دساتني لپاره چي د تخريب ويره وي صادروي.
۱۷۳سوال : وروستي قرارونه په ښکاره ډکو را وپيژنئ؟
ځواب : وروستي قرارونه دابتدايه اعترضونو د موجوديت په صورت کي صادريږي لکه دمحاکمو دعدم صلاحيت قرار، ددعوې د رد قرار او نور...

۱۷۴سوال : د مدني محاکمو د اصولو دقانون په رڼا کي د محکمي قرار کوم مطالب په بر کي رانيسي را وي وايئ ؟
ځواب : لانديني مطالب په بر کي نيسي: ۱ـ د قرار د صدور محل او تاريخ؛ ۲ـ د قرار د صادرونکي محکمي نوم، د محکمي ترکيب او د قضايي جلسي منشي؛ ۳ـ د مورد منازعه قضيي په موضوع کي شامل کسان؛ ۴ـ هغه موضوع چي د هغي په اړه قرار صادريږي؛ ۵ـ هغه علل او اسباب چي محکمه د هغه له مخي خپل قرار صادروي؛ ۶ـ د محکمي قانوني اتکا؛
۷ـ په هغه قرار باندي د شکايت د ميعاد ټاکل چي په قانوني توګه قطعي نه وي؛ ۸ـ په هغو ځايونو کي چي د قانون د حکمونو سره سم قرار نهايي وبلل شي، د قرار د قطعيوالي يادونه؛
۹ـ په هغو ځايونو کي چي د قانون د حکمونو سره سم قرار نهايي نه وي بلل شوي، د قرار د قطعيوالي يادونه؛
۱۷۵سوال : په مدني شخړو کي د قضايي قرارونو ډولونه کوم دي يوازې نومونه يي را واخلئ ؟
ځواب : ۱ـ د عدم صلاحيت قرار ۲ـ د خصومت د ترک قضايي قرار ۳ـ د عامه حقوقو په قضاياو کي ددعوې د دوران قضايي قرار ۴ـ د عامه حقوقو په قضاياو کي ددعوې د عدم دوران قضايي قرار ۵ـشرعي سند پر وړاندې د دعوې د دوران د عدم لزوم قضايي قرار ۶ـذواليدي قضايي قرار ۷ـ د نامزدۍ د فسخ قضايي قرار ۸ـ د نکاح د دعوې په دوران باندې قضايي قرار ۹ـ د نکاح د دعوې په عدم دوران باندې قضايي قرار.

۱۷۶سوال : د محاکمو د د واک د نشتون قرار را وپيژنئ؟
ځواب : د مدني محاکمو د اصولو د قانون د ۱۹مي مادي د حکم پربنسټ: ( په هغه صورت کي چي محکمه قضيي ته د رسيده ګي په اړه خپل ځان ذيصلاح ونه بولي، د هغي قضيي په رد باندي قرار صادروي) چي همدا دمحکمي د حوزوي او موضوعي عدم صلاحيت له قرار څخه عبارت دي.
۱۷۷سوال : د خصومت د ترک قرار په لنډو ټکو واضح کړئ؟

ځواب : کله چې د صورت دعوي مدعي، خپل ځان په ټاکلي موده کې محکمې ته حاضر او قضايي پلاوي د هغه د خبرو په صحت باندې نظر ورکړي، محکمه د مدعي دعوه د مدنی محاکمو د اصولو د (۲۱۰،۲۶ او ۲۱۱) مادو سره سم، په صورت حال کې داخلوي، که مدعي په صورت حال کې د دعوی تر داخليدو وروسته ، له کوم معقول عذر پرته غايب يا ځان ورک کړي، محکمه د م،م،ا،ق د (۱۵۳مې) مادې د حکم پربنسټ، مدعي راغواړي او که بيا هم حاضر نه شو، نو محکمه د خصومت په ترک باندې پريکړه کوي او هغه ورقې بيرته خپلې اړوندې مرجع ته مستردوي...............

۱۷۸سوال : مدني قانون نوماندي د واده لپاره تعريف کوي د مادې د يا دښت سره يې راو پيژنئ؟

ځواب : د مدني قانون۶۴ مه ماده روښانه کوي چې: (نامزدي د ازدواج لپاره وعده ورکول دي ، د طرفينو دواړه لوري کولی شي ور څخه منصرف شي.)

۱۷۹سوال : د افغانستان د پلې شوو قوانينو سره سم، د واده لپارد نوماندۍ څخه را د ګرځيد لودوه لارې دي قانوني لار يې په خپلو ټکو را واضح کړئ؟

ځواب : قانوني لاره ـ کله چې ستونزه د جرګو له لارې حل نه شوه نو محکمې ته راجع کيږي او محکمه دم،م،ا،ق د ۱۰۲ مادې سره سم د فسخ قضايي قرار صادروي دغه قضايي قرار قطعي بڼه لري.

۱۸۰سوال : د واده لپاره د نوماندۍ د فسخې څخه وروسته د ډالۍ حکم واضح کوئ؟

ځواب : د مدني قانون د ۱۰۳يمه ماده او ۶۵مه ماده، وروسته تر دې چې نامزادي فسخه شوه، ډالي ورکوونکي کولای شي د خپلې تاديه شوي ډالي غوښتنه وکړي، په دې شرط چې هديه ورکوونکي به انصراف کوونکي نه وی او هديه به د مقابل لوري په لاس کې وي.

نو پايله داده چې په لاندې حالتونو کې هديه د استرداد وړ ده: ۱ـ انصراف به د هديه ورکوونکي د مقابل جانب له لوري وي ( هديه ورکوونکي به انصراف کوونکي نه وي).

۲ـ هديه به موجوده وي هلاک او يا استهلاک شوي به نه وی.

۱۸۱سوال : د مدني قانون له مخې د واده لپاره د نوماندۍ ډالۍ په کومو حالاتو کې د را ګرزيدو وړ ده واضح يې کړی؟

ځواب : دوه حالات دي ۱ـ انصراف به د هديه ورکونکي د جانب مقابل له لوري وي

۲ـ هديه به موجوده وي

۱۸۲سوال : د محکمو حکمونه د قاطعيت له مخې په دوه ډوله دي داوړه يې را وپيژنئ؟

ځواب :۱ـ قطعي حکم ـ هغه دی چې د استيناف غوښتنې قابليت ونه لري.

۲ـ نهايي حکم ـ هغه دی چې ټول مراحل يې طئ شوي وي يعنی دا دې ستري محکمې حکم بللئ شو.

۱۸۳سوال : په کومو مواردو کې د ابتدايه محکمې حکم قاطعيت مومي،دا موارد په لنډو ټکو سره را واضح کړئ؟

ځواب : په لاندې مواردوکې د ابتدايه محکمې حکم قاطعيت مومي.

ځواب : ۱ـ هغه صورت کې چې داعتراض موده تيره شوې وي

۲ـ هغه صورت کې چې دابتدايه محکمې حکم داستيناف له خوا تائيد شي

۳ـ کله چې حکم دمحکوم عليه په اقرار صادر شوي وي، يا د جرګې لخوا حکم باندې موافقه شوي وي

۴ـ په هغه صورت کې چې دمدعي بها اندازه ۱۰۰۰۰۰ څخه زياته وي

۵ـ غير قطعي حکمونه چې مدعي او مدعي عليه ته د شکايت زمينه مساعده شوي وي او دوي ترې استفاده کړي وي

۱۸۴سوال : د حضور له مخې د حکم ډولو نه دوه دي ، د ورکې (غيابي) حکم په اړه لند توضيحات ارايه کړئ؟

ځواب : غيابي احکام چې د دعوې يو طرف (مدعي عليه) د نه شتون په صورت کې د مسخر وکيل په وړاندې د محکمې لخوا صادريږي

۱۸۵سوال :مدني محاکمو د اصولو قانون له مخې پريکړه په کومو برخو ويشل کيدای شي، بوازې نومونه يې واخلئ ؟

ځواب : مدني محاکمو د اصولو قانون ۲۵۴ مادې له مخې (۵) برخو ويشل شوي .۱ـ مقدمه ۲ـ تشريع ۳ـ استدلال ۴ـ پايله ۵ـ د حکم د نص برخه.

۱۸۶سوال : د پريکړې دسريزې برخه په کوم مطالبو راټوليګې په لنډه توګه يې تصريح کړئ؟

ځواب : ۱- د پريکړې د سريزې برخه کې لمړی د واکمنې محکمې د جلسې دريس قضايي غړو د جلسي د مونشي او څارنوال نومونه خو هغه مهال چې څارنوال غونډه کې ګډون کړی وي ۱ ـــ د مدعي او مدعي عليه بشپړ شهرت هستوګنه دنده محل کسب د تابعيت د تذکيرې لمبر او د هغه د صدور د محل او نورو د قضيې د شاملو کسانو شهرت د هغو د قانوني ممثلينو او وکيلانو په شمول پکې توضيح کيږي۳- د دعوې د موضوع د نوعې تشخيص ۴- د پريکړې د صدور محل نيټه لمبر او له ضمايمو سره د پريکړې د اوراقو شمير په خاصه مټه کې درج کيږي .

۱۸۷سوال : د پريکړې د پايلې برخه کوم مطالب لري په لنډ ډول يې وواياست؟

ځواب : د پريکړې د پايلې په مطالبو کې لاندې ټکي راتلای شي: ۱ـ د مدعي صورت د عوی ، د مدعي عليه مدفعات او نور د طرفينو د دعوی اړوند مطالب د مدعي دعوې د صحت وروسته پکې درج مومي او بايد دمدعي غوښتنې پکې انځور شوې وي، ۲ـ د طرفينو اقرار يا انکار. ۳ـ د شاهدانو د شهادت قبلول يا رد. ۴ـ اسناد، قاطيعه او مستنبطه قراين. ۵ـ قسم او د قسم څخه نکول. ۶ـ د محاکمې د بهير لنډه توضيح.

۱۸۸سوال : د حکم د نص د برخو څخه ۴ برخې را وپیژنئ؟
ځواب : ۱ـ د قضایي جلسې د تاریخ راوړل او د اراوو په اکثریت یا اتفاق باندې د حکم صدور. ۲ـ په مشخصو دلایلو اتکا د قانون د مادې له ذکر سره. ۳ـ د دعوې د طرفینو ذکر یا د حکم په نص کې ذی اړخو د شتون یادونه. ۴ـ د محکوم بها تعین ۵ـ د دعوې رد مانا د مدعي دعوی چې کله رد شي.
۱۸۹سوال : په ټوله کې د محاکمو پریکړې په کومو شکلونو تر سره کیږي، د نومونو سره یې په لنډ ډول واضح کړئ؟
ځواب : د محاکمو پریکړې په دوه بڼو ترسره کیږي: ۱ـ د الزام قضأ: د مدعي بها په ثبوت باندې له حکم کولو څخه عبارت ده چې قاضي د اثباتیه مدارکو او شواهدو د دلایلو پربنسټ، د مدعي لپاره مدعي علیه د مدعی بها په ورکړې باندې مکلف کړي. ۲ـ په ترک قضأ: د قاضي له هغه حکم څخه عبارت دې چې، مدعي ته د مدعي بها په عدم ثبوت باندې حکم وکړي. په مهربانی سره نورو مالوماتو لپاره ۱۳۷ پاڼې ته ور وګوره !
۱۹۰سوال :د ښکتنی محکمې دفیصلې د ماتیدو (نقض) موارد کوم دي واضح یې کړئ؟
ځواب : د فیصلې د نقض موارد ۱ـ د فیصلې نه مدلل والي ۲ـ د هغه مواردو نه وضاحت چې د قضیې د سپیناوي لپاره مهم وي ۳ـ د قوانیو له احکامو څخه سمه کارونه نه کول ۴ـ د قضې د حالاتو سره د مدندرجه دلایلو عدم تطابق ۵ـ دمدعي د نه حضور له امله د حصومت په پرېښودلو سره د فیصلې صدور ۶ـ ټولې هغه تیروتنې چې د قانون له مخې د فیصلې د نقض موجب ګرځي .
۱۹۱سوال : داستیناف د محاکمو احکام په کوم حالت کې قاطعیت پیدا کوي وې ښیئ؟
ځواب : د استیناف محکمو حکمونه په لاندینیو حالتونو کې د فرجام څېړلو وړ ندي:
۱ـ هغه حکمونه چې پر صریحه اقرار او ابرأ باندې مستند وي لو فرجام غوښتونکي یوازې له خپل حضوري اقرار یا ابرأ څخه منکر وي. ۲ـ ددواړو لوریو د قناعت پربنأ چې رسمي بڼه یې خپله کړې وي.
۳ـ هغه حکم چې دواړو لوریو پخپله خوښه دهغه حکم پرقاطعیت اقرار کړي وي او حکم په شرعي وثیقه کې درج وي. ۴ـ ټول هغه اسناد چې د سوګند په استناد رامنځته شوي وي. ۵ـ په هغه صورت کې چې د مدني، عامه او شخصیه احوالو په قضیه کې د مدعي بها ارزښت ۲۰۰۰۰۰ افغانیو او په سوداګریزه قضیو کې تر ۵۰۰۰۰۰ افغانیو پوري وي. ۶ـ نور هغه موارد چې په قانون کې اټکل شوي دي.
۱۹۲سوال : د پای غو ښتنې استدعاد کومو مطالبو در لودونکې ده را ووایئ؟
ځواب : ۱ – د دعوې طرفینو شهرت ۲ – د حکم صادرونکې محکمې نوم ۳ – د هغې فیصلې حکم چې له هغو څخه شکایت شوی دی ۴ – د محکمې د حکم د ابلاغ نیټه ۵ – دپای غوښتنې مؤجبات .
۱۹۳سوال : د سترې محکمې د عامه او مدني حقوقو دیوان واکونه را وپیژنئ؟
ځواب : د عامه او مدني دیوان واکونه د قضایه ځواک د محاکمو د تشکیل او واک قانون ۴۷ او ۴۸ مادې را خیستې چې عبارت دي له: ۱ـ د ښکتنو محاکمو د پریکړو نقض ۲ – د ښکتنیو م د پریکړو تایید ۳ – د بطلان په سبب حاکمې محکمې ته د قضیې ارجاع د محاکمود ت او واک قانون ۴۸ ماده وګورئ !!
۱۹۴سوال : د ښکتنی محکمې پریکړې او قرارونه په کومو مواردو کې د پای څېړنې وړ ندي را وې پیژنئ؟
ځواب : ۱ـ دداسې احکامو نه شتون چې هغو کې په صریح اقرار ،حضوري ابرأ یا داسې قوي دلایلو سره چې وثیقه مشبوهه کړي استناد شوی وي۲ـ دپای غوښتنې د حق سقوط په هغه صورت کې چې د طرفینو قناعت رسمي شکل حاصل کړی وي ۳ـ د هغې محکمې حکم چې طرفین یې په خپل رضایت سره په قاطعیت اقرار کړی وي او حکم یې په شرعي وثیقه کې درج شوی وي .
۱۹۵سوال : مدني محاکمو اصول د افغانستان په قضایي او عدلي ارګانونو کې تر کومې کچې پلي کیږي، له خپلو مالوماتو یې را واضح کړئ؟
ځواب : په بلابیلو قضایي او عدلي ارګانونو کې د ګمارل شوو قضایي غړونه پوښتنه وکړئ !!